# د حضرت عبدیاه نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## مالِک خُدائ به د ادوم د خلقو عدالت کوی

١ (١) دا د عبدیاه رویا ده. دا هغه څۀ دی چې مالِک خُدائ
يې د ادوم د قوم په حقله فرمائی، مونږ د مالِک خُدائ نه یو
پیغام واورېدو، هغۀ یو پېغمبر قومونو ته ولېږلو چې ورته
وفرمائی، ”پاڅئ، او راځئ چې په ادوم حمله وکړُو.“ (٢)
اے ادومه ګوره، زۀ به تا په قومونو کښې وړوکے کړم، تۀ به
ډېر سپک شې. (٣) تۀ خپل غرور دوکه کړے يې، تۀ چې د
غرونو په غارونو کښې اوسېږې، او په اوچتو ځایونو کښې
خپل کور جوړوې، تۀ چې د خپل ځان سره وائې چې،
”څوک ما لاندې زمکې ته راوستلے شی؟“ (٤) خو تر دې کۀ
تاسو د باز په شان اوچت هم والوځئ، او خپله جاله د
ستورو سره جوړه کړئ، نو زۀ به هلته نه هم تاسو لاندې
راولم، مالِک خُدائ فرمائی. (٥) کۀ غلۀ د شپې راشی او تا
لوټ کړی، نو هغوئ به تا نه دومره څۀ پټ کړی څومره چې
غواړی. کله چې خلق انګور راټولوی نو څۀ نه څۀ ترې نه
پاتې شی. خو ستاسو دشمن به تاسو مکمل جارُو کړی. (٦)
د ادوم خلق، د عِیسو اولاد به په پوره توګه لوټ کړے شی،
او د هغوئ پټې خزانې به یوړے شی. (٧) تر دې چې ستا
ټول اِتحادیان به هم تا ستا د خپل مُلک نه وزغلوی، ستا خپل
ملګری به تا دوکه کړی او په تا به زورَور شی. ستا اعتباری

دوستان به تا ته دام خور کړی، خو تا ته به دا معلوم نۀ وی.
٨ مالِک خُدائ فرمائی، په هغه ورځ به د ادوم په ټوله علاقه
کښې يو هوښيار کس هم باقی پاتې نۀ شی، ځکه چې د ادوم
په غرونو به زۀ هغه هر يو کس تباه کړم څوک چې عقل لری.
٩ اې تيمانه، ستا جنګيالی به ويرېږی، او د ادوم په غرونو
کښې هر يو کس به حلال کړے شی.

## ادوميانو ته د سزا مِلاوېدو وجه

١٠ تا خپل ورور يعقوب سره ظلم کړے دے نو په دې وجه
به تۀ په شرمونو وشرمېږې او د همېشه دپاره به تباه او برباد
شې. ١١ په هغه ورځ تۀ لرې ولاړ وې کله چې غېر مُلکيان د
هغۀ دروازو ته ورننوتل او د هغۀ نه يې مال دولت يوړلو، او د
يروشلم د تقسيمولو دپاره يې پچه واچوله. نو تا په هيڅ نۀ
کولو داسې رويه خپله کړې وه لکه چې تۀ هم د بنی اِسرائيلو
دشمن يې. ١٢ تا له د خپل ورور د بد قسمتۍ په ورځ
خوشحالېدل نۀ دی پکار، او نۀ درله د يهوداه د خلقو د تباهۍ
په ورځ خوشحالېدل پکار دی، او نۀ درله د هغوئ د تکليف په
ورځ لافې کول په کار دی. ١٣ تا له نۀ وو په کار چې زما د
خلقو دروازو ته ننوتلے وې د هغوئ د تباهۍ په ورځ، او نۀ
درله په کار وو چې تۀ د هغوئ د تباهۍ په ورځ د هغوئ په
مصيبت باندې خوشحاله شوے وې، او نۀ د هغوئ د تباهۍ
په ورځ هغوئ لوټ کړې. ١٤ تا له نۀ وو په کار چې په
چوکونو کښې ولاړ وې او هغوئ دې وژل څوک چې تښتېدل.
تا له نۀ وو پکار چې هغه بچ شوی خلق دې نيول او دشمن ته
دې حواله کول، په کومه ورځ چې هغوئ په مصيبت کښې
وُو. ١٥ د مالِک خُدائ د قيامت ورځ رانزدې ده، د ټولو

قومونو دپاره. څنګه چې تاسو کړی دی، نو هم داسې به تاسو
سره هم وشی. ستاسو عملونه به واپس ستاسو په خپل سر
راشی. ۱۶ اول تاسو زما په مقدس غرۀ زما د غضب جام
وڅښلو، خو اوس به يې نور ټول قومونه څښی. بلکې هغوئ
به دا په څښلو څښلو خالی کړی، او هغوئ به دې آخری
قطرې هم څټی. بيا به د هغوئ نام و نشان باقی پاتې نۀ شی،
داسې به ښکاری لکه هغوئ چې بلکل وُو نه.

## د بنی اِسرائيلو فتح

۱۷ خو د صيون غر به د هغوئ دپاره د پناه ځائ شی څوک
چې تښتی، دا به مقدس وی. او د يعقوب اولاد به دا ځائ د
خپل ميراث په توګه قبضه کړی. ۱۸ د يعقوب اولاد به لکه د
اور په شان وی او د يوسف اولاد به لکه لمبه وی، او ادوم به
لکه د بوسو په پوره توګه وسوزوی. د ادوم په اولاد کښې به
څوک هم ژوندی پاتې نۀ شی. مالِک خُدائ دا فرمائيلی دی.
۱۹ د نجب خلق به د ادوم غرونه قبضه کړی، او د ښکته
علاقو خلق به د فلستيه مُلک قبضه کړی، هغوئ به د اِفرائيم
او سامريه علاقې قبضه کړی، او د بنيامين خلق به جِلعاد
قبضه کړی. ۲۰ د بنی اِسرائيلو جلاوطن کړے شوی خلق
چې په کنعان کښې دی به د صارفت پورې مُلک قبضه کړی،
د يروشلم جلاوطن کړے شوی څوک چې په سفاراد کښې
دی هغوئ به د نجب په ښارونو قبضه وکړی. ۲۱ خلاصون
ورکونکی به د صيون غرۀ ته بره وخيژی چې د ادوم په
غرونو باندې حکومت وکړی. او مالِک خُدائ به پخپله
بادشاه وی.

pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹